انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۱۲/۲۵

# د جدی شپږمه د افغانستان د بربادی ورځ

زموږ د هیواد په تاریخ کی داسی ورځی بیخی ډیری دی چی پردیو غاصبینو او یرغلګرو زموږ په وطن او خلکو بی موجبه یرغلونه او تیری تجاوز کړیدی او دا ملت یی د جنګ جګړي په میدان کی تجربه کولو ته را کش کړیدی. د سکندر، عربو، چنګیز او د هغه د اولادی، تر د صفویانو او انګریزانو پوری ټول هغه تجاوز ګر یرغلونه وو چی د دی وطن په خرابی او بربادی کی تر آخری سرحده پوری لاس لرلی، او د دی خاوری انسان ته یی ددی موقع نه ده ورکړی چی د نړی د نورو بشری ټولنو په څیر، د خپل ملک د آبادی او ښیرازی په لار کی، خپل توان او استعداد وکاروی او د تمدن پوړی یوه په بلی پسی ووهی. دا تاریخی یرغلونه په مستقیمه توګه په ۱۹۱۹ میلادی کال کی د اعلیحضرت غازی امان الله خان له خوا د یوه مستقل او آزاد افغانستان په جوړیدو سره چی د انګریز د استعماری طاقت له سلطی څخه یی خپل هیواد د اتلو افغان غازیانو او مجاهدینو د سر په قربانیو سره خپلواکی ته ورساوه، پای ته ورسیدل او افغانانو ته د خپل وطن د جوړیدو زمینه برابره شوه. خو له بده مرغه انګریزی استعمار په افغانستان کی د امانی دوری پرمختګ ته د خپلی امپراطوری د ړنګیدو د پاره د یوه نه ماتیدونکی سنګر په سترګه وکتل نو ځکه یی په افغانستان کی د غلو، ډاکوانو او نا اهله کسانو په روزلو او د افغان قومونو د ناپوهی نه په ګټی اچوتولو سره دی ته زمینه برابره کړه چی امانی نهضت او د افغان ولس د آبادی دا لومړی ابینول شوی خښته ماته او د بیا د پاره په غیر مستقیمه توګه دا هیواد د خپل تسلط لاندی راولی. د ال یحی د کورنی په ټوله دوره کی که څه هم افغانستان د نړی د آزادو هیوادونو په لیست کی ور شامل و، خو ددی وطن انسان د داسی کورنی استبداد سره مخامخ و چی د ژوندانه په یوه برخه کی یی هم له صفری سطحی څخه ځان را ونه شو ایستلی. همدی فقر او غربت دی ته زمینه برابره کړه چی دا ولس د یوه بل خامار ( دوخت د شوروی اتحاد) خولی ته ور واچوی.

د شوروی اتحاد استعماری خصلت د انګریزی استعمار سره له دی کبله چی په اشغال شوو هیوادونو کی یی نه یواځی سیاسی، اقتصادی او نظامی واکی په خپل لاس کی نیولی بلکی ایدیالوژیک تغییرات یی هم راوستل او د نیول شوو سیمو ځوان نسل یی د خپلو هسی تاثیراتو لاندی راوسته چی د بیرته په شاتللو امکانات یی هم تری اخستل. له بده مرغه زموږ ټولنی ته هم، دي ټولنیزی ناروغی سرایت وکړ او زموږ اکثره هغه ځوان چی دي هیواد (شوروی اتحاد) ته د زده کړو د پاره ولیږل شول، د مسلکی زده کړو تر څنګ بیرته خپل هیواد ته د کاملاً بدلی ایدیالوژی سره چی د افغانی ټولنی د کلچری جوړښت سره یی هیڅ ډه نه شوه لګولی را داخل شول، چی د څو کلونو په اوږدو کی یی نتیجه د ۱۳۵۷ کال د ثور د اومی ورځی په کودتا سره را ووتله او د هیواد سیاسی قدرت هماغی ډلی ته په لاس



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ورغی چی د شوروی اتحاد د دولت د ایدیالوژی پیروی یی کوله یعنی د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند. تر کومه ځایه چی معلومه وه ددی گوند مشران لا د پخوا نه داسی مدبر اشخاص نه و چی د خپلی ټولنی د عینی شرایطو سره سم یی گام اخستی وای، نو همدا وجهه وه چی د قدرت په ویش سره جوړرانه غلل او د کشمکش په نتیجه کی چی د شوروی د کمونیست گوند هدف و، د گوند یوه برخه د ببرک کامل په مشری د (پرچم ډله) چی د یوه مصنوعی ائتلاف په نتیجه کی د خلق له ډلی سره یوځای شوی وو، د بیا د پاره له قدرت نه وشړله شوه. په قدرت کی پاتی ډله هم په څو گروپونو تقسیم شوه چی بالاخره د نورمحمد تره کی ډله د هغه د وفادار شاگرد حفیظ الله امین دډلی له خوا د تره کی په وژل کیدو سره ماته شوه او امین د یوائنی مرد میدان په توگه د قدرت واکی په لاس کی ونیوی. ددی پیښی نه وروسته په هیواد کی د ننه داسی حالات را منځ ته شول چی نور هرڅه له کنترول ووتل او د شوروی د پلویانو له خوا داسی آوازی هم خپری شوی چی حفیظ الله امین د سی. آی. ای. سړی دی او غواړی چی امریکایان هیواد ته راولی. دا آوازی د شوروی زعامت د خپلی مداخلی د پاره یوه پلمه ونیوه او د پرچم دډلی دمشرانو لکه ببرک کارمل، نور احمد نور، اناهیتا راتبزاد، نجیب الله او نور، سره چی لا پخوا دهیواد نه بهر شړل شوی وو او د تره کی دډلی هغه کسان چی په هیواد کی دننه د شوروی اتحاد په سفارت کی پټ و لکه اسدالله سروری، سید محمد گلابزوی، اسلم وطنجار او شیرجان مزدوریار سره په مشوری دی نتیجی ته ورسیدل چی باید د شوروی لښکری د افغانستان د نجات تر نامه لاندی، افغانستان ته را داخلی شی.

د همدی پریکړی نه وروسته د شوروی اتحاد سرو لښکرو د ( ۱۳۵۸ هـ ش کال د جدی په ۶) چی د (۱۹۷۹م کال د دسمبر د ۲۷) نیټی سره برابره وه د افغانستان په خاوره نظامی تیری وکړه او د هیواد حکمران حفیظ الله امین یی وواژه او پر ځای خپل تر ټولو ښه وفادار گوډاگئ ببرک کارمل پر تخت کښیناوه.

د شوروی اتحاد تر دی وسله وال تیری وروسته چی د افغانستان په خاوره یی وکړ د غربی نړئ خصوصاً د امریکا متحده ایالاتو ته یوه مناسبه موقع په لاس ورغله چی د شوروی اتحاد نه د ویتنام په هیواد کی د خپلی ماتی انتقام واخلی، نو د افغانستان د همسایه هیواد پاکستان سره یی تر مستقیمی او د بل همسایه، ایران سره یی د نورو اروپای انډیوالنو له لاری د افغان مهاجرو د مقاومت د بهیر سره د وسله والی مبارزی د تقویه کیدو پرتو کولونه لاس لیک کړل او په دی توگه یی د نژدی لسو کلونو د پاره د شوروی اتحاد نظامی، اقتصادی او نړیوال سیاست ته داسی گزارونه ور کړل چی بالاخره یی و کولی شول چی نه یوائی د شوروی اتحاد د پراختیا غوښتنی د سیاست له خطر څخه ځانونه او نوره نړی و ژغوری بلکی ټول کمونیستی بلاک یی له بیخه و نړاوه او د شوروی ستره امپراطوری دړی وړی کړه.

داخو خپله د شوروی اتحاد د سرنوشت د پاره د دوی د بی مورده او بی موجبه مداخلی نتیجه شوه، خو د دی څوچنده زیات یی زمونږ هیواد د داسی تباهی او بربادی سره مخامخ کړ، چی نه یوائی ټولی مادی او معنوی شتمنی مو له لاسه ورکړی بلکی زمونږ خاوریی د ټولی دنیا، د ټولو متخاصمو قوتونو د جنگ میدان وگرځوله او لا هم نه ده معلومه چی وروستی نتیجه به یی زمونږ د پاره څه جوړیږی.

د همدی پورته لنډو خبرو نه ورسته زه داسی فکر کوم چی: څومره چی د افغانستان په ټول تیر تاریخ، او په دي تاریخ کی د گڼ شمیر تورو ورځو لیست ته نظر واچول شی، د جدی (۶) ورځ هغه توره ورځ راته برېښی چی په یوائیتوب سره د ټولو تورو ورځو له مجموعی نه، توره، کرغیرنه، بربادونکی او زمونږ د ولس د پاره لومړی تباه کونکی ورځ

ده. ددی ورځی عاملین هم د افغان ولس په تاریخ کی راته هغه توری ځیری ښکاری چی نه یی بل مثال شته او نه به نور داسی تور مخی تر دی وروسته را پیدا شی. لعنت دی وی په دي تور مخو او د دوی به شان په نورو بی مغزو تورو ځیرو باندی.

پای

جدی دویمه ۱۳۹۶

تورنتو ـ کانادا